شهادت

(٤) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (٦٣٣) سال شانزدهم شمارهٔ (٢١) يکشنبه (١٩) ثور ١٣٧٢ هـ .ش (١٨) ذي القعده ١٤١٣ هـ . ق (٩) مي ١٩٩٣ م

بيه: يوه روپي يا ٥٠٠ افغاني

رباني باردیگرخواستارمیانجي گري ایران درحل قضیهٔ افغانستان شد

کابل – ١٨ ثور :

برهان الدین رباني رئیس ادارهٔ ائتلافي کابل ازایران تقاضاکرده است تادربین جناحهاي مختلف میانجیگري نماید. وي پیامي به علي اکبرهاشمي رفسنجاني رئیس جمهورایران فرستاده وازوي تقاضا نموده است تامساعي میانجیگري را براي کمك درمرفوع ساختن سؤ تفاهمات بین جناحهاي مختلف براه اندازه .

مبصرین راعقیده برآن است که رباني درتلاش بدست آوردن وقت غرض آمادگي براي آغازجنگ میباشد للا تقاضاي صلح ومیانجیگري راجهت نیل به این هدف عنوان مینمایددرحالیکه خودهمین اکنون درشهرجلال آباد است تاباره‌بران جهادي غرض رفع اختلافات مذاکره نماید .

رباني چرااختلافات رادرهمین مجالس نمیخواهد حل نمایدکه ازکشوردیگري طالب کمك مي شود درحالیکه آتش بس براي اولین بارتوسط وزیربه اصطلاح دفاع ادارهٔ ائتلافي نقض شده وفعلاً هم جنگهارا درپروان کاپیسا علیه جبهات حزب اسلامي رهبري میکند.

دتاجکستان اسلامي نهضت جلاوطن حکومت نه دي جوړکړي

محمدشریف

کابل – دثور ١٨ :

دتاجکستان داسلامي نهضت مشرمحمدشریف همت زاده هغه خبرونه ردکړیدي چې پکي ویل شوي وچي ګواکي دغه نهضت په افغانستان کي دتاجکستان جلاوطن حکومت جوړکړیدي ده وویل چې موږداکارنه دي کړي، خوزیاته یې کړه چې موږددي غوښتونکي یوچې په تاجکستان کي دعدل اوانصاف اودخلکوپه خوښه حکومت جوړشي .

همت زاده داهم وویل چې ده پاکستان، سعودي عربستان اوایران ته سفرونه کړیدي اودهغوڅخه یې دتاجکي مهاجرینو لپاره مالي مرستي غوښتي دي . تردي وراندي ځیني خبري چینلونوخبرونه خپاره کړي وچې محمدشریف همت زاده جلاوطن حکومت جوړکړیدي .

استادسیاف تراوسه جلال‌آباد ته ندي راستون‌شوی

جلال آباد – دثور١٨ :

ځیني پاکستاني ورځپاڼوخبرورکړي چې ګواکي استادسیاف له احمدشاه مسعود سره له خبرو وروسته بیرته جلال آبادته راستون شوي دي، ولي پدي هکله دجلال آباد دقصربوي منبع شهادت ته وویل چې استادسیاف تراوسه بیرته نه دي راغلي اوله احمدشاه مسعودسره خبري کوي .

دي منبع وویل چې دهغه هیئت څخه چې داستاد سیاف سره کابل ته تللي حاجي شمالي اوفضل حق مجاهد بیرته راستانه شویدي ولي استادسیاف لاتراوسه نه دي راغلي .

منبع زیاتوي چې اوس په غونډوکي داستادسیاف په نمایندګي مولوي فیاض برخه اخلي .

دکابل په غربي سیمه کي ائتلافي خواکونو دحزب وحدت مرکزونه تراورلاندي ونیول

کابل – دثور ١٨ :

دکابل له غربي سیمي نه په راوسیدلوراپوټونوکي ویل کیږي چې تیره ورځ بوځل بیا ائتلافي ځواکونو داوریند څخه په سرغړاوي په دغه سیمه کي دحزب وحدت اسلامي پرمرکزونودزي کړي اوګن شمیرکسان چې اکثریې کلیوال اوبي دفاع ښاریان ووژلي اویا ژوبل کړیدي. ځیني منابعودغه شمیرترسلوزیات ښودلي دي.

په خبرونوکي ویل کیږي چې ائتلافي ځواکونه هره ورځ اوشپه دمقابل لوري په مرکزونودزي کوي، اوددي لپاره زمینه مساعدوي چې په کابل کي یوه لویه جګړه بیاونښلي اودجلال آبادمذاکري ناکامي شي .

دبل خبرله مخي دکابل ښارپه ځیني سیموکي هم راکټونه غورځیدلي دي خو معلومه نه ده چې دادچاله خواشویدي .

ایران په یوه اړخیزه توګه ٢٢٠٠ تنه عراقي اسیران خوشي کړي دي

تهران : دغويي ١٧ نیته.

تیره ورځ ایران په یوه اړخیزه توګه دعراق ٢٢٠٠ نیول شوي بوځیان آزاداودجنروي په پوله عراقي مقاماتو ته وسپارل .

آزادشوي عراقي بوځیان دفارس خلیج په جنګ کي دایرانیانوله خوانیول شوي وو.

خبرزیاتوي چې تیره اوني هم دایران حکومت په یواړخیزه توګه ٢٠٠ نوربوځیان آزادکړي وو . دجنګي بندیانو دکمیسیون ویاند وویل چې دایران له خوا دعراقي بوځیانوآزادول په داسي حال کي ترسره شول، چې بین المللي

٤ مخ

صدراعظم باید دکابیني په هکله دپارلمان څخه داعتمادرایه ترلاسه کړي

جلال آباد – دثور ١٨ :

داستادرباني دمطبوعاتي دفتررئیس عزیزمراد داستادرباني له قوله وایي چې هغه دجهادي مشرانو غونډي ته دوه نوي طرحي وړاندي کړي چې په هغوکي داسي ویل شوي چې دصدراعظم له خواجوړه شوي کابینه باید ددوي په اصطلاح دهیواد له پارلمان څخه داعتماد رایه ترلاسه کړي اوکه فرضاً دپارلمان پخپل ځاي باتي شي .

استادرباني مراد داهم وویل چې دستري محکمي ترفیصلي پوري دي پخواني کابینه په ځانګړي توګه ددفاع، داخلي، خارجي اوتعلیم اوتربیي وزیران مسئله مشکلات لري نوبیا دستره محکمه پدي هکله فیصله وکړي .

په ننګرهارکي دجهادي مشرانو غونډي رواني دي

دایران دجمهوري ریاست له پاره ١٢٨ کسانوځانونه کاندیدکړي دي

تهران : دغويي ١٧ نیته .

دایران دجمهوري ریاست دانتخاباتوله پاره چې دجون دمیاشتي پر ١١ نیته کیږي دجمهوررئیس علي اکبر هاشمي رفسنجاني په شمول یو سل او اته ویشتو کسانو ځانونه کاندیدکړیدي.

دنومونو دثبتولو کاردچهارشنبي په ورځ پاي ته رسیدلي دځارونکوشوراکاندیدولوپرشرایطو باندي غورکوي او په بله اونی کي به وروستني فیصله اعلان کړي .

په مخکنیوکلونوکي اکثرکاندیدان دکاندیدولووړنه وو ګرځول شوي.

جهادي مشران دجمهوررئیس اوصدراعظم له خواپروراندي شوو طرحو بحث کوي

جلال آباد – دثور ١٨ :

دجلال آباد قصرڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې نن هم دجهادي مشرانوترمنځ غونډي وشوي په خبرکي ویل شوي چې نن دورځي لس بجي دټولو مشرانویوه ګډه غونډه جوړه شوه چې ټولومشرانوپکي برخه درلوده ، پدغه غونډه کي چې تربیولسو بجوپوري روانه وه پریکړه وشوه چې جمهوررئیس استادرباني اوصدراعظم محترم حکمتیار دي دستونزي دحل په اړوند لیکلي طرحي وړاندي کړي ، چې دمشرانویه غونډوکي به پري بحث کیږي .

په خبرکي زیاته شوي چې بله غونډه چې دمازیګرپه څلورو بجوپیل شوه محترم صدراعظم اوجمهوررئیس خپلي طرحي په لیکلي دول هغي ته وړاندي کړي چې دجهادي مشرانو له خواتربحث لاندي ونیول شوي دغه غونډي وشپي ترناوخته پوري رواني وي .

##

کابینه به له کوم پارلمان څخه داعتمادرایه اخلي ؟

تقریباً لس ورځي راهیسي په جلال آبادکي دنهوجهادي تنظیمونومشرانوددغه ولایت په جمهوري قصرکي ګډي غونډي پیل کړي، ترڅودهیواددروانوستونزوپه اړوندیوي موافقي ته ورسیږي اویوه داسي طرحه راوړاندي کړي چې دهغي له برکته زموږځپل شوي هیوادوال داسلامي حکومت ترسیوري لاندي دارامي ساه واخلي اوپه هیوادکي دتل لپاره جګړه بنده شي .

دغوغونډوته که څه هم له پیله سیاسي کتونکو دشك په سترګه کتل اوتراوسه پوري هم داسي څه پرمختګ پکي نه دي شوي چې دچاهیلي راتاندي کړي، ځکه چې استادرباني دهیوادجمهوررئیس اوبیل نیم مشرددفاع په وزارت اواحمدشاه مسعودباندي داسي نښتلي دي چې داداوړه لازم اوملزوم ګڼي، ان چې خپل اودخپل تنظیم موجودیت هم په هغوپوري مربوط اوتړلي بولي، لګیادي دټول ملت ګټي تریوه فردقربانوي اوداځومیاشتي بدبختي ، جګړي اووراني اوپه ځانګړي توګه داسلام آباد دمعاهدي ته عملي کیدل اوهمدااوس دجلال آبادغونډي له بن بست سره مخ کیدل ، ټول له همدي امله دي، اوهیڅوك هم دسولي لپاره امیدواري نشي کولاي.

ددفاع وزارت مسئله دومره رسوایي ته ورسیده چې جمعیت اودهغه اتحاد والان توریري پرده نشي اچولاي اوهرچاته داپوښتنه پیداکیږي چې رباني ولي یوفردترټول ملت ته دروند بولي؟ ددي لپاره چې داموضوع نوره هم رسوانه شي نودادي استادرباني بل ګل هم وسپړه اوداسلام آبادمعاهدي څخه یې صراحتاً سرغړاوي اعلان کړوبي ویل : هغه کابینه چې دصدراعظم له خواته وټاکل شي بایدپارلمان څخه داعتمادرایه ترلاسه کړي ، استادرباني اوس هڅه کوي ددفاع وزارت موضوع دپارلمان دمسئلي دراپوړرته کیدوترسیوري لاندي راولي اوداذهنیت دخلکوله مغزوڅخه وباسي چې ګواکي رباني اواتحادوالان یې دمسعود په خاطرهرڅه په داولګوي .

خواوس پوښتنه راپیداکیږي چې له پارلمان څخه داعتماد درایي داخستوڅخه آیاهدف هماغه پارلمان دي چې دهغي په اصطلاح حل وعقد شوري څخه جوړشوي چې له نهوڅخه اووتنظیمونوورسره رسماً مخالفت اعلان کړي اوهغه یې جعلي اودیوه تنظیم شوري بللي وه ؟

همداراز استادرباني اواتحادوالانویي دحل وعقد شوري اوله هغي

مخ ٤

دخوګیانیو،مهمندواوشنوارو قومونو مشرانو له جهادي مشرانوسره وکتل

جلال آباد دثور ١٨ .

دجلال آباد له جمهوري قصرڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې نن اوږرون دخوګیانو،مهمندواوشینواروقومونو ګن شمیر سپین ږیرو، مشرانو اوعلماوو له جهادي مشرانو سره وکتل اودرواني ستونزي دحل په اړوند یې خپل پیشنهادونه اوغوښتني ورته وړاندي کړي.

په خبرکي زیاته شوي چې نن ورځ لومړي دخوګیانو ،بیادمهمندواووروپسي دنازیانودقوم مشرانو په جلاجلا ډول له جهادي مشرانوسره وکتل اوهغوي ته یې بنه راغلاست وویل. په خبرکي راځي چې دخوګیانو دقوم په نمایندګي حاجي خیرمحمد ،دمهمندو دقوم په نمایندګي مولوي محمدابراهیم اودنازیانو دقوم په نمایندګي عبدالقدیر "تیزاب" وینااوي وکړي، اوله جهادي مشرانو څخه وغوښتل چې دخداي اوملت په خاطر خپلي ستونزي حل کړي ، اسلامي حکومت جوړکړي اونور دوژني او اورمخه ونیسي ، دغو مشرانو دا هم وغوښتل چې په بشپړه توګه باید اوربند وشي ، لاري خلاصي شي اوکمونستانو ته اجازه ورنه کړي چې په حکومتي چوکات کي بیاکار وکړي. دغومشرانو جهادي رهبرانو ته په داګه کړه چې که ستونزه حل نه کړي نوکیداي شي چې دتاجکستان موضوع تکرارشي ، بیابه یې مسؤلیت ستاسو مشرانوپه غاړه وي . دوي دا هم وویل چې که تاسي داستونزه نشي حل کولاي نوملت دي ته چمتو دي چې ستونزي حل کړي . دغو قومي مشرانو دننګرهار له جهادي شوري څخه هم مننه وکړه چې دستونزي دحل اومشرانو دغونډي لپاره یې زمینه مساعده کړیده.

$$$$$

دننګرهارولایت محصلینواوزده کوونکو له جهادي مشرانوسره وکتل

ننګرهار– دغويي ١٦ مه :

دننګرهارولایت داسلامي پوهنتون طب پوهنځي، لیسو، ښوونځیواودیني مدرسو ګن شمیر محصلینواوزده کونکو دروان کال دغويي دمیاشتي په ١٦ مه نیته سهارپه ٨ بجو دننګرهارولایت په مرکز جلال آباد ښارکي په یوه لویه مظاهره لاس پوري کړ، پدي مظاهره کي چې په زرګونو محصلینواوزده کونکوبرخه درلوده دننګرهار ولایت دطب پوهنځي څخه پیل شوه .

په لومړي سرکي چې دطب پوهنځي محصلین په تورنګ جاموکي دعمومي سرکڅ په لورروانول اودتلاشي چوك په لورني حرکت وکړله هرلوري ورسره ګن شمیرزده کونکي یوځاي کیدل کوم وخت چې دمظاهري بهیردافغان سیدجمال الدین چوك ته راورسید دننګرهار داسلامي پوهنتون محصلین هم ورسره یوځاي شول او دقصرپه لوریي مارش وکړ دحضرت صدیق اکبر(رض) په جامع جوماتکي یې دننګرهارولایت دجهادي شوارئیس الحاج عبدالقدیرسره خبري وکړي دغونډي په سرکي دقرآن عظیم الشان دڅومبارکوآیاتونو له تلاوت نه وروسته لومړي ورور عبدالله دطب پوهنځي محصل یوه ارزښتناکه وینا وکړه وروپسي وروړعبدالحمید اوعبدالحکیم دطب پوهنځي محصلینو په خپل وار وینااوي وکړي اوپه آخرکي مجاهدوروړنثاراحمدداسلامي پوهنتون دادبیاتو دپوهنځي محصل پریکړه لیك ولوست .

وروسته محصلینودقصر په لورحرکت وکړاوقصرته ورسید ل اود جهادي رهبرانو څخه دپوره یووالي غوښتنه وکړه او خپل پریکړه لیك یې ورته ولوست په خبرکي ویل شوي چې جهادي مشرانو محصلینوته وعده ورکړه چې دستونزي ترحل اواتفاقي طرحي پوري به نه سره جلاکیږي .

##

له جهادي مشرانوڅخه دننګرهار ولایت دمحصلینو غوښتني ٣مخ

دبګرامیوپه ولسوالي کي دمحصلینو دیوي حوزي انتخابات ترسره شول

کابل – دوري دمیاشتي ٢٤ :

دکابل ولایت دبګرامیو ولسوالي څخه دمحصلینو دفترخبرراکوي چې دنوموړي ولسوالي محصلینودروان کال دوري دمیاشتي په ٢٤ مه نیته یوه درنده غونډه جوړه کړه پدي غونډه کي چې ګن شمیر محصلینو برخه درلوده، دقرآن عظیم الشان دڅومبارکوآیاتونوپه تلاوت پیل شوه .

دغونډي په پیل کي دبګرامیودحوزي مسئول وروریارمحمدخان ارزښتناکه ویناوکړه اوبرخوال ئي خپلو مسئولیتونو ته متوجه کړل غونډه دبرخوالو په دعاسره پاي ته ورسیده اودنوموړي حوزي انتخاباتي نتیجه ئي پدي ډول اعلان کړه .

وروریارمحمد دناظم په توګه

ورور نجیب الله دمرستیال په توګه

ورور احمدضیا دفرهنګي مسئول په توګه

وروامان الله دارتباط دمسئول په توګه

ورور عبدالعزیز دانشجوي داداري مسئول په توګه

ورور عبدالرحمن دمالي مسئول په توګه

ورورمحمدصابر ددعوت تنظیم دمسئول په توګه

##

سخن روز

که دجلال آباد خبري اتري هم بي نتيجي پاته شي مسئووليت به يي دچاپرغاره وي ؟

لتون

تقريباً يوه نيمه هفته پوره كيږي چي په جلال آباد كي دمجاهدورهبرانو ترمنځ داسلام آباد دمعاهدي په رڼاكي خبري اتري رواني دي، په دغوخبرواتروكي يوازيني ستونزه چي اصلاً يي داسلام آباد دمعاهدي دپياده كولو مخه نيولي ددفاع دوزارت ستونزه ده، كه ځه هم داسلام آباد دتړون پروخت ضمناً منل شوي وه چي ترديي وروسته به جهادي مشران په جلال آباد كي سره ټوليږي اودكابيني په تشكيل به منحيث كل مشوره كوي اوبياددغه تړون توثيق په مكه معظمه او تهران كي هم وشو اوويل كيږي چي پردغه معاهده دعملي كولو له پاره په اسلام آباد اومكه معظمه كي ځرگندونه هم يادكړاي شوي دي چي دمعاهدي ټولي مادي به په صادقانه ډول منل اوعملي كيږي، ځوكله چي جمهوررئيس محترم استادرباني له تهران نه كابل ته راروانيده په هماغووركوكي لوړي دهغه تطاق او بياپخپله درانه استادوويل چي داسلام آبادپه معاهده كي ددفاع دوزارت په باب هيڅ خبره نه ده شوي اوددفاع وزارت به لكه دپخوا په شان دپنجشير له قوماندان احمدشاه مسعود سره وي ، بيا چي كله په جلال آبادكي دلومړي ځل له پاره خبري اتري پيل كيدي ، په هغي كي محترم استادگڼون ونه كړاوخپل نماينده ښاغلي عمادي راوليږه اودغه خبري اتري ديوځه وخت له پاره بي نتيجي وځنډول شوي لنډه داچي له زيات ټال مټول وروسته چي استادرباني دځرځي پله په سيمه كي دحزب اسلامي له اميراودهيوادصدراعظم مجاهد وروركحكمتيارسره كومي پنځه ساعته خبري اتري وكړي، هغه خبري هم يوازي داستادله خوادمسعود په نمايندگي ددفاع پروزارت دټينگارله امله بي نتيجي پاي ته ورسيدي .

اوس دايوه نيمه هفته دمخه چي كله مسعود دپروان په ولايت كي دكمونستو ځواكونوپه ملاتړدحزب اسلامي پرجهادي ځواكونوناڅاپي حمله وكړه له دي سره سم په جلال آبادكي دخبرواترو آوازي واوريدل شوي اوهغه دي ورځ نيمه كم يوه نيمه هفته په جلال آبادكي دجهادي مشرانو ترمنځ خبري اتري رواني دي اوددغوخبرو اتروپه نتيجه كي ددفاع دوزارت ستونزه هماغسي پرخپل ځاي پاتي ده، څوورځي دمخه چي دپوهاندسياف په مشري كوم هيئت په اصطلاح ددفاع وزيرته دخبرو اتروله پاره ورته ، اوهغه ته يي دجلال آباد" په مذاكراتو كي دگډون بلنه يوځل بياوركوله، نوهغه مهال زموږدرنومشرانوبايد ترهرڅه دمخه ددي پريكړه كړي واي چي ښاغلي مسعود ته بايد په كوم حيثيت په خبرواتروكي دگډون بلنه وركړاي شي اوهم استادرباني دغه پوښتني ځواب كړاي واي :

الف : آيامحترم استادرباني دښاغلي مسعود نماينده گي واك نه لري؟ كه لري يي ، نوبيا دځه له پاره مسعود ته په خبروكي دگډون بلنه وركول كيږي ، اوكه استاددهغه (مسعود) نماينده گي نه شي كولاي نه بياولي دهغه ددفاع دوزيرپه حيث پرياتي كيدوټينگاركوي .

ب : كه ښاغلي مسعود دنظارشوري له جمعيت نه پرته دكوم ځانگړي ځواك په حيث مطرح كول غواړي نواستاد بايدله مسعود نه په جرئت سره خپل برأت اعلان كړي .

ج : له دي ټولو سره سره كه استاددجمعيت داميرپه حيث دپريكړوواك نه لري، نوخپل مجاهدملت ته له دغه مخسي نه دراوتوپه خاطر بايد خپله بي وسي ځرگنده كړي .

د : كه له دي هرڅه سره سره استادرباني اودهغه پلويان دمسعود ددفاع دوزيرپه حيث پرياتي كيدلو ټينگاركوي ، نوداسي كوم دلايل دي چي استاديي دنورو جهادي ځواكونوپه مقابل كي وړاندي كولاي شي . كه په رښتيا سره جمعيت دحزب اسلامي اونوروجهادي ځواكونو په مقابل كي ددي برتري ووږي چي دهغه قوماندان مسعود اودهغه كمونستوجنرالانو ته دي ددفاع وزارت وركړاي شي نومهرباني دي وكړي اودغه برتري دي خپل مجاهدملت ته په گوته كړي چي دنوروجهادي ځواكونوپه پرتله يي لري، اوكه ددفاع له وزارت نه يي هدف توطئي كودتاوي اودخپلو مجاهدو حريفانوټكول اوله منځه وړل نه وي، نوبيا دځه له پاره ددفاع دوزارت پوري دومره كلك نښتي دي، آياترڅو دي په داغوره نه وي چي نوردي ديو سړي له پاره زموږدمومن ملت وينې تويي نه شي، ځوارلس كلني قرباني اوهيلي يي له خاوروسره خاوري نه شي، ددښمنانو دخندانه شراوپه خپلو دوستانوكي گنلي وقارله لاسه ورنكړو .

په داسي حال كي چي زموږدټول مومن ملت اودجهاد ددوستانو سترگي دجلال آباد دخبرواتروپه لوراووښتي دي اوپه دي هيله هره ورځ په جوماتونو كي دعاگاني كيږي چي زموږجهادي مشران به انشاء الله ديرژرديوه مستحكم اسلامي حكومت په جوړولو چي دټولي ټري دمسلمانانوآرزووده سلاشي نوكه له دومره سترو هيلواوآرزوگانوسره خداي (ج) مه كړه دجلال آباد خبري اتري دفردواحد دخواهشاتوټينگارشي اوبي نتيجي پاي ته ورسيږي مسئووليت به يي دچاپرغاره وي ؟

ځرگنده خبره ده چي مسئووليت به يي دهماغه چاپرغاره وي، چاچي ديوي نړيوالي استكباري توطئي په نتيجه كي دايوكال په كابل اوټول هيوادكي دوينو اوباروتولوپه توده ساتلي ده، ځوك چي دكمونستي ځواكونوپه مرسته پرافغانستان ديوه بي پښتوباره اوغربي حكومت خوبونه ويني ، چاچي دكابل ښاردبي دفاع خلكوناموسونه ، كورونه اوشتمني دپخوانيوكمونستوځواكونوپه وسيله دمجاهد په نامه لوټ كړي اودځوارلس كلنومجاهدينوپرخلاف يي دكمونستو بقاياوپه مرسته جگړه توده ساتلي ده ، په دغوحساسو شيبوكي دهيواد مؤمنوعلماوته بلنه وركول كيږي چي دخپل علمي اوايماني رسالت پراساس دپيښوپه باب بي تفاوته پاتي نه شي اود خپلومؤمنوملي‌وني شهيدانودهيلو دتحقق په خاطر خپل تاريخي رسالت ترسره كړي اوله حق اوحقانيت نه دملاتړپه خاطر مومنانه دريغ غوره كړي .

مصري مسلمان مبارزين دمصري طاغوت ترشكنجي لاندي

فدامحمد"فايض"

په اسلامي نړي كي تربوه اوږده سكوت وروسته په نولسمه پيړي كي (۱۳هجري پيړي) دكوټږ ددنگوغروپه‌لمن كي يوداسي نابغه اومبارزشخصيت سرراوچت كړچي دتكبيرملكوتي غږيي ټوله نړي ولړزوله . دامجاهدشخصيت علامه سيدجمال الدين افغان و. دسيدپيغام آفاقي ونوځكه خوبي دعوت يوازي پخپل ټاټوبي كي خلاصه نه شو، له افغانستان نه نيولي ترهندوستان ، ايران عربي نړي او يورپ پوري يي دحق چيغه ورسيده اودوخت دطاغوتانو دظلم اواستبداد دمانيوبرجونه يي ولړزول .

دهغوهيوادوپه ډله كي چي دسيددحق آوازته يي لبيك ووايه يوهم مصرو اوان چي دمصرلوي مفتي محمدعبده دسيدمبارزوي كرښلاري سره خپله هم آهنگي وښوده اوله هغه سره يي گام پرگام دمبارزي اوجهاد اغزنه لارووهله .

دسيدمبارزوي كرښلاري نه په الهام اخستني سره دشلمي ميلادي پيړي دلومړي نيمايي پيړي په پاي كي يوبل علامه اونابغه شخصيت سرراوچت كړاودسوراستعمارپه مقابل كي يي له ستوني دحق چغه راوايسته . داد ځرځلاري اتل مبارز شهيداستادحسن البناو . دهغه دځواني لومړي پسرلي ويعني دعمرايله خواوشايوويشت كاله به يي تيروچي په ۱۹٤۸م كال يي په مصركي ديوي منظمي او سازماني مبارزي پخاطر ديوه اسلامي تنظيم بنسټ كيښود .

داتنظيم داخوان المسلمين تنظيم وچي په داسي وخت كي يي دتاداوډبره كيښودل شوه چي په ټوله سيمه دپيرنگي دښكيلاك جال خپورو .

دشهيد حسن البنا دعوت هم لكه دسيدجمال الدين افغان ددعوت په ځيرنړيزو نوځكه په لږوخت كي نه يوازي داچي په ټول مصركي يي پلويان پيداكړل چي گردمنځني ختيځ اوټولي اسلامي نړي ته يي نيلي وغځيدي اودنړيوال استكبار په وړاندي ديوبين الاسلامي مبارزي بنسټ كيښودل شو. له همدي امله نړيوال ښكيلاك داتنظيم دځان اوخپلوسياسي ، اقتصادي اونظامي اهدافو دتحقق په لاركي يوسترخنډ اولوي خطروباله اوپه دي هڅه كي شو چي ددي تنظيم دغږيودټكوني لپاره خپل ټول وسايل استعمال كړي .

شهيدامام حسن البنا هغه مبارزشخصيت وچي دخپل همدي افاقي مبارزوي پيغام په جرم په ۱۹٦۰ ميلادي كال دپيرنگي ښكيلاككړواودهغوي دايجنټانو دتوطيي په ترڅ كي په شهادت ورسول شو.

حسن البنا شهيد كړاي شو خودحق كومه ډيوه چي هغه بله كړي وه هيڅكله هم چاتته نكړاي شوه ځكه څومره چي داخوان المسلمون په غربوفشارراوړل كيده، زندانونوته اچول كيدل اووينې يي دطاغوت دپلويانو په تاوليوالاسوتوئيدي هغومره يي دحق دبلي كړي ډيوي رڼازياتيده اودجهالت په تيارودنړي تياره شوي گوټونه يي رڼاكول په خانگړي توگه دسفاك ناصرله وخته چي لاسونه يي دسترمفسراومسلمان مفكرعلامه استادسيدقطب اودهغه دمبارزي دسنگرتكړه ملگروپه وينو سره شول ترداوسه پوري اخوان المسلمون دطاغوت دظلم په ښتي كي سوځي خودي دومره فشارونو هيڅكله هم داخوان دهمت ملاكړه تكړه اونه يي داخوان دمبارزو وځوانانواحساسات ساړه كړاي شول. داخوان المسلمون دعوت دومره عام شوي چي ديوي احصائيي له مخي اوس په عربي نړي كي ځه له پاسه نوي اسلامي ډلي په خپلوخپلو هيوادو كي دطاغوتي رژيمونو دراپرځولو اوپرځاي يي داسلامي حكومتو درغاوني پخاطر مبارزه كوي .

داخوان المسلمون دازميست ترټولومهمه دوره هغه وه چي دتنظيم بنسټگرامام حسن البناوبيا لاپسي دغورځنگ لوي لوي مفكرين لكه سيدقطب، عبدالقادر عوده اونورپه شهادت ورسول شول اوترننه هم دالړي روانه ده؛ خودخداي جل جلاله د وعدي پراساس چي والله متم نوره ولوكره الكافرون . الهي ديوره لاپسي روښانه شوه ترديي چي دادي نن ختيزاولويديز ښكيلاك په گډه ددي نوردوژلو هڅه كوي اووي كړه مكرپخپل شوم هدف كي برياني نشول . ختيځ ښكيلاك په افغانستان كي سروخوړاوپه اصطلاح غوږيي گاته سربي بايلوداولويديزخودومره نهيلي شوي چي چيرته مسلمان گوري دځان لپاره يي سترخطرگني. دبوسنيا نه نيولي تراالجزاير مصراو ... پوري يي يوازني ماموريت دادي چي اسلامي ځواكونه وټكوي ځكه په نړي كي روسان مات شول اولويديځ خپل نړيوال نظامي سيال له لاسه وركړ اوس يي نويوازني دښمن مسلمان دي .

كه ځه هم چي مسلمانان په پوځي لحاظ له لويديځ سره دپرتلي ورنه دي خوكومه وسله چي مسلمان سره ده امريكايي پخپل كروزاوپرشنگ توغنديو اوايف شپارس اوايف پنځلس ډوله الوتكو مقابله نشي كولاي اونه يي انگليس ، فرانسه المان اونورغرب دمقابلي توان لري ځكه روس پخپل وخت كي ترلويديځ لوي ږرځي طاقت واوايديالوژي هم ورسره وه خودروس پوځي قوت اوايديالوژي دواړوله اسلام سره په ډغره كي ماتي وخوړه اولويديځ نظام خومازي په پانگوالي ولاړنظام دي چي په غيراخلاقي مناسباتواودوسلي په زوربي ساتنه كوي اوكله چي داغيراخلاقي مناسبات چي همدااوس يي لويديځ ته يي شميره بدبختي زيزولي دي اوځلي اسلامي عقيدي ته په ډغره ورځي سكاره ده چي دمقابلي توان نلري بلكي ترروس به هم ډيرژرله منځه ځي نوله همدي امله يي په اسلامي نړي كي داسلامي غورځنگونو په تكوليسي رااخستي ده .

لويديځ اوپه سركي يي امريكاترټولو زيات دمصري مسلمانومبارزينودټكولو اراده لري چي داځكه مصرداوسنيونړيوالواسلامي غورځنگوزانگوده اوگردي اسلامي نړي ته داسلامي مبارزي فكرپه حقيقت كي له همدي ځايه خپورشوي دي دلويديځ په اندكه چيرته په مصركي اسلامي غورځنگ سركوب كړاي شي نو نوره اسلامي نړي به پخپله ودريږي اودنړيوال استكبارله دښمني نه به لاس واخلي له همدي لامله يي دمصري طاغوت حسني مبارك په واسطه دمصردمسلمانومبارزينو دسركوبولو هڅي پيل كړي دي. دمصرحكومت اعلان وكړچي په داكال نيم كي چي په مصركي كوم سيلانيان وژل شوي دي په دي كي دمصرداخوان المسلمون دغورځنگ پوره لاس دي په همدي توگه يي ددي غورځنگ دغړيودنيولو، بنديانولواواعدامولولړي پيل كړي اودايي په ځرگنده ويلي چي داخوان المسلمون سره هيڅ ډول تفاهم اومذاكره نشي كيداي په همدي توگه يي پرهغوهيوادوچي داخوان المسلمون غړي په جلاوطني كي پكي ژوندكوي هم فشارراوستي چي هغوي له خپلو هيوادونه وباسي اودليل يي دادي چي هغوي له هغه ځايه دخپلوهيوادو دحكومتونو پرخلاف مبارزه كوي. له دي هيوادونه يوهم پاكستان دي چي زيات شميرمبارزعربان يي نيولي اوبنديان كړي يي دي دمصرحكومت په دي وروستيوكي پتيبلي ده چي په اخوان المسلمون پوري مربوط ځوانان به له خپلوتعليمي ادارونه اخراجوي .

داټول غيراسلامي ، غيرانساني اوغيراخلاقي اقدامات په سكاره دامريكي اولويديزبلاك په اشاره اودهغوي دخوشالولوپخاطر كيږي خوكه چيري داسلامي تحريكونو اوپه ځانگړي توگه داخوان المسلمون مبارزوي پس منظرته يوسرسري نظرهم وكړو نوپه نهايت كي داډول اقدامات هيڅكله هم ددي تحريكونو داسلامي فعاليتونودمخنيوي باعث كيداي نشي كه چيري مصري طواغيت پدي توانيدلاي چي دهغه هيواددمسلمانومبارزينو دفعاليتونو مخنيوي وكړي نوښايي هغه وخت بي كړي واي چي ددي تحريك مشران يي شهيدان اوپه زرگونويي بنديان كړل اوپه بنديخانوكي يي هم غيراخلاقي اوغيراسلامي رويه اوچال چلن ورسره كاوه . داپه داډسره ويلاي شوچي راتلونكي داسلام دي، اسلام به سرلوري اونړيوال كفربه نابودي‌ږي .

دشمني امريكابادنياي اسلام

عبدالودود دروازي

برناظرين دريچه سياست وپويندگان اطلاعات جهاني ودنبال كنندگان قضاياي دنياي امروز ودلسوزان عالم اسلام وجوانان پرمسئوليت وبادرك واحساس وبه عقب گردانندگان رخ عظيم جهان كمونيزم ، اين جهادگران متعهد ومؤمن وفداكار وايثارگر ،تحولات دردهه آخرقرن بيستم ودررأس آن هجوم ناجوانمردانه روسها بالاي خاك مقدس كشور عزيزما افغانستان وپديدآمدن حس سلطه گرايي وقلعه گشايي آنها وبالاخره رسيدن به بحر وصال بخاطر راندن كشتي خيال به آب هاي گرم وزلال ، وهجوم جنون آميزامريكا به نيت استقرار نظام استعماري اش درجهان وخصوصاً دركشورهاي خليج براي استخراج نفت وريختن خون هزارها نوجوان فلسطيني وحركت هاي ناآگاهانه زعماي دولت هاي اسلامي چنانچه منجر به يك سلسله ناآرامي هاي داخلي وجنگ بين دوكشور اسلامي (ايران وعراق) وساير دول عربي ودرآخر حملهٔ صدام حسين بالاي كويت وجنگ خانمانسوز عراق با " اتحاديه قوت ها " به سركردگي امريكا وبردگي كويت ، وحملات ظالمانهٔ صربيها ي فرومايه وبي اخلاق عليه مردم مسلمان بوسني هرزگوين وكشتن صدها طفل وسالمند بي دفاع آن منطقه دربعد نظامي ، وگلاسنوست " گورباچوف وقتل هاي پنهاني مسلمانان ورهبران مذهبي آنها درمخفي گاههاي . K.G.B درآن وقت ، ونظم نوين جهاني باجهان امريكايي دربعد سياسي ، وفروپاشي نظام بي اساس كمونيزم به يمن واحسان خداوندي وهمت وپيكار بيدريغ مجاهدين افغانستان كفرشكن و آزادشدن دولت هاي اسلامي آسياي ميانه از چنگال بي امان خرس قطبي وديدن نور اميد بقلب هاي تاريك جهانيان بي خبر ودست هاي پس پرده درقضيه صومال ، كشمير ، فلسطين ،تاجكستان وافغانستان ، جهان امروز به شهر كوچك وپرغلغله اي مي ماند تاجهان پهناور!

درين مبحث مي خواهم روي سه مشكل مهم و حل نشده : قضيه عراق ، بوسنيا وافغانستان براي مدت كوتاهي باخوانندگان محترم تماس برقرارنمايم تاباشد مسلمانان وجوانان مجاهد ومبهن دوست احساس همدردي ومسئوليت نموده وباتشريك مساعي همه جانبه برموانع وعوارض سر راه چيره شده وبردسيسه هاي خاينانهٔ امريكا واقف ومطلع بوده باشيم وعقده هاي دشمن رابابازوي شهامت خورد كنيم وبراي سياه پوشان جهان كرامت انساني را بازگردانيم وبه مظلومان جهان دادعدل بدهيم وبشريت را ازچنگال عفريت جهل نجات بخشيده ودنيارا براي خود وديگران شرين بسازيم ، نه چون ديگران ميكروب هاي ساري رابه شمول ايدز وزهرهاي مهلك وذره هاي اتم و هايدروجن رابه خاطر ازبين بردن انسان توليد كنيم وآن را ازجمله ضرورت هاي نظامي برشماريم ودرمدارهاي معين نصب نموده وهرگاه خواسته باشيم جهان راتباه نمائيم ودر ظاهر لاف ازهمدردي وبشر دوستي بزنيم اگر چه بين ادعاي كاذب وواقعيت برحق سالها فاصله درميان باشد درصورتي كه خودآنها اين عمل راجنايت توصيف نموده اند اماجنايت به غير شان تعلق مي گيرد وآنچه آنجام مي دهند خدمتش مي نامند .

صدام حسين بدون مشوره ورضايت مسلمانان عراق بالاي شيخ نشينان كويت حمله نمود و شربت كام آنها را براي مدتي تلخ ساخت ، اما آنچه مصيبت آور به نظر مي رسيد بوقوع پيوست و امريكا بامتحدين خويش وارد درياي سرخ شد وبرچشمه هاي نفت قدرت يافت وقدح تقسيم ومصرف آنرا تصاحب نمود وهزار ها تن آهن وباروت را به مصرف ازبودجه مسلمانان عربي بالاي خودشان فروريخت وروزانه چند بار خاك عراق را به غربال جهنمي اش همي بيخت ، حتي ازوحشت اين جنگ زنده جانهاي دريايي هم بي ضرر نماندند چه سد به ساكنان آن ، وبعد از مدتي ملل متحد به اشارهٔ امريكا بالاي كشور عراق بندش هاي اقتصادي راوضع كرد وعلايق تجارتي آنرا ممنوع اعلام داشت وصدها طفل شير خوار جان شيرين شانرا دراثر همين خيانت بين المللي ازدست داد واين خودش مخالف منشور سازمان ملل مي باشد.

همين ملل متحد به مجرد گريختن شيخ كويت جلسات فوق العاده ترتيب داد وخواهان خروج فوري قواي عراقي ازسرزمين كويت گرديد ، برعكس ازكشتن وبستن مسلمانان بوسني هرزگوين لذت مي برد وبراي اغفال ديگران هيئت هاي تحقيقاتي مي فرستد و" قيل وقال ؛ زيادي را براه انداخته است.

وجنايات صربها عليه بوسنيا بي ها راتخطي ازمنشورملل متحد نمي داند ،تجاوز هاي ضد اخلاقي آنها را درنظر نميگيرد ، فرياد گرسنگان ومجروحين بي درمان آن ديار رانمي شنود درحالي كه صدها كيلومتر از كويت به آنها نزديكتراست، براي حقيقت هاي آفتابي هيئت تفتيش واعتماد مي فرستد مگر اين كار ها چه توجيهي دارند جز ضياع وقت واغتنام فرصت براي صربهاي متجاوز ودرنده خوي ؟

البته همه مي دانيم اما سكوت اختيار مي كنيم ، آنها هم ميدانند وسكوت مي كنند ، چشمهاي شان مي بيند وعقل وگوش شان ظاهراً مسخ نشده است اماچرا اقدام به جلو گيري چنين اعمال ننگين نمي كنند؟

همه ميدانيم : چون امريكا راضي است ونمي خواهد حتي براي روزي زمين ازخون مسلمانان خشك بماند.

البته همه مي گوييم : " افغان هاي خودمان بين خودجورنمي آيند ، همي اخوانيهايي كه مي گفتند . صدفيصداسلام مي خواهيم !" اماواقعيت ونفس امر چيز ديگري است ، پنهان ازمن وتو وعيان برمن وتو ، همه تبصره دارند ومي گويند : افغانستان كدام اهميت ويژه اي ديگر براي غرب ندارد وشايد همين سبب باشد.

تا آرزو هاي ملت مجاهد افغان متحقق نشود ، نه خير چنين نيست! امريكا درصددامريكايي ساختن جهان بوده وبزرگترين مانع براي تعميل آن قدرت نيروهاي جهادي افغانستان تلقي مي گردد ، ايران ،سوريه و عراق وكوريا را به بهانه طرفداران تروريزم بين المللي محكوم مي كند ، وتورم جنايات درامريكا بطور فزاينده بي ارتقامي يابد وكسي آنرا تروريزم نمي خواند ، دركارخانه هاي بزرگ صنعتي امريكا يك قسمت اعظم فضا را آلوده كرده است وذكري از توقف آن دردفتر ملل نيست ، ولي ازتوليد ضرورت هاي اوليه در ممالك ديگر جلوگيري به عمل مي آورد.

افغانستان نه ازطرف داران وهمكاران تروريزم بوده ونه كدام بم اتم وهايدروجني ذخيره نموده، ودربازار هاي تجارتي وجنگ هاي اقتصادي همچون اروپا وجاپان با امريكا درگيري ندارد.

ونه مخالف منشورملل عملي انجام داده است ، ولي آن چه مهمتراست تشكيل يك قدرت درمنطقه مي باشد وامريكارا تاحدي عصباني نموده است واين هم موجباتش ضعف بينش وعدم دستور كامل وتيوري دهنده مي باشد ، اما اسلام پيرو توهمات وتخيلات نبوده وحكم هرچيز را بعدازظهور وحدوث آن با اطمينان كامل ارايه ميدارد ، وعنصر عدل وقسط رامدنظر گرفته بادوستان ودشمنان يك فيصله مي نمايد وكشور اسلامي افغانستان با همه نوع بشر همكاري داشته وآرزوي خدمت نمودن را به همگان وجيبه اخلاقي وبين المللي خو دمي داند وبه آزادي سياسي وتماميت ارضي همه ملت ها ومنشور سازمان ملل به ديده احترام نگريسته وحسن نيت همه جهانيان رامتمني مي باشد وازديگران هم عمل صادقانه ومتقابل راانتظار مي كشد.

محكمهٔ عالي پاكستان رسيدگي به عرض نوازشريف صدراعظم سابق آنكشوررا آغازنمود.

اسلام آباد- ۱۸ ثور :

ديوان عالي پاكستان امروز رسيدگي به عرض حال نوازشريف صدراعظم پاكستان بركنارشدهٔ آنكشوررا آغازنمود . نوازشريف دردرخواستش عنواني محكمه گفته است كه بركناري اوتوسط غلام اسحق خان رئيس جمهور كشوربدلايل شخصي صورت پذيرفته است بنابرين غيرقانوني ومغايرقانون اساسي است.

داستادرباني ټينګارددفاع په وزارت په څه خاطر؟

مجيب

کله چي وحشي روسانو زموږدمؤمنو مجاهدينوپه وړاندي دټم کيدو توان اوقدرت له لاسه ورکړ، اوپه دي پوه شول چي دامؤمن اوغيرتي ولس نشي کولاي دزورله لاري ترخپل تسلط لاندي راولي، نوپه پولړمکرجنوسياسي دسيسوبي لاس پوري کړ. چي ګواکي افغان ولس به تيرباسي اودخپلو لاسپوڅو(خلقيانواوپرچميانو) واکمني به دسياسي حل په نامه پرهغوي وتپي .

له همغي ورځي نه راپدېخواجمعيت اوپه راس کي بې احمدشاه مسعود ددي پرځاي چي خپل نظامي فشارنورهم په روسانوزيات کړي ، ترڅوروسان شرميدلي اوپه تيښته زموږله هيوادڅخه خپلي ناولي پښې سپکي کړي ، برعکس هغه له روسانوسره اوربند لاسليك کړاوخپل نظامي فشاريي دمجاهدينوپه مقابل کي استعمال کړ. له يوي خوايي خپله دروسانو په مقابل کي له جنګ څخه لاس واخيست اوله بل لوري بې دهغومجاهدينوپه وړاندي چي دروسانو په مقابل کي جنګيدل خشونه راولاړاوپرهغوي بې حملي شروع کړي .

په قدرت مين احمدشاه مسعود داکارپه دي خاطروکړچي هغه په دي پوهيده روسان خوپه هرصورت چي وي له دي هيوادڅخه به وځي، دغه دروسانوتلوپروسه که لرڅه وځنډيده اوده‌يواد په تباهي ، بربادي اوددغه مظلوم ولس دلازياتومرګ ژوبله باندي تمامه شوه پروانه لري . خوچي په دي لړکي دي (احمدشاه مسعود) وتوانيږي هغه مخلص پردبن اووطن مين مجاهدين چي په راتلونکي کي بيادده دخودسريواوبي

بندوباريومخه نيسي اوغواړي په هيوادکي دسوچه اسلامي نظام ترسيوري لاندي هيواد وال بي دهوسايي ژوند وکړي په دي فرصت کي دي بايد هغوي له مخي لري کړي ترڅوپه آينده کي داسي څوك نه وي چي دده دخودسريو مخه ونيسي .

ګرچه مسعود دروسانودوتلوپروسه وځندوله چي زموږ دهيواد والو دلازياتي مرګ ژوبلي اوده‌يوادپه تباهي اوبربادي تمامه شوه، لله الحمد په دي ونه توانيده بوالځي په هغوسيموکي چي ده دشواي نظارپه نامه فعاليت لاره مخلص مجاهدين له خپلي مخي لري کړي .

بياکله چي روسان زموږله هيوادڅخه په تيښته وتښتيدل بوځل بيادقدرت ليوني احمدشاه مسعود له يوي خواغربي استکبارته اوله بلي خوامزدورنجيب ته دشنو چراغونوپه بنودلوسره دمزدوروکمونستانو دواکمني لري چي بياهم زموږدهيوادوالو په لازياته مرګ ژوبله تمامه شوه اوپرده کړه، ترڅوبي چي په رسمي اوعلني توګه کمونستانو اودمزدوررژيم له بقاياووسره په ناولي ائتلاف لاس پوري کړاوزموږمؤمن اوغيرتي ولس دبرم اوپرتم ډك څوارلس کلن تاريخ اوافتخارات بي په سيندلاهواودغه ګريدلي هيوادوال بي دخپل نارواقدرت په خاطر يوځلي بيا په ويراوماتم کښينول .

اوس چي ددغي ناولي ائتلاف درامينځته کيدوپوره يوکال تيرشواوپه دايوه کال کي زموږ مؤمن اومجاهد ولس اوپه خاصه توګه دکابل مظلوموښاريانو داحمدشاه مسعود دخودسريو اودقدت ليونتوب په خاطرڅه ناخوالي ونه ليدلي ؟ دکابل ښکلي ښار دمسعودله لاسه وران اوويجاړشو دملي شتمنيوسربيره په

کابل ښارکي زموږد مظلوموښاريانوټولي شتمني لوټ اوتالاشوي، دهغوي په عفتونوتيري وشو لنډه داچي په دايوکال کي زموږمظلوموښاريانودمرګ ژوبلي، چورتالان اوبي عفتي پرته نورڅه ونه ليدل . اودقدرت په مينه مست احمدشاه مسعود په دي هم ونشوتوانيدلاي چي لااقل دکابل ښاريانوامنيت تأمين کړي خوددي سره سره بي بياهم دواړه پښي په يوه موزه کړي چي ددفاع وزارت بايدله ده سره وي .

داچي استادرباني هم په دي پوهيدلي چي دوي نشي کولاي بوالځي په کابل ښارکي امنيت راولي اوترهغه چي احمدشاه مسعود ددفاع په وزارت کي پاتي وي نوزموږهيوادبه له دغوناودوسره

مخامخ وي ولي بياهم ددفاع په وزارت اصرار کوي .

